**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د سایکس-پیکو رژیمونو حاکمیت یوازې د ښکېلاکګرو قدرتونو پر مټ ولاړ دی

**(ژباړه)**

ټول ملي او سیمه ییز دولتونه هغه مهال د غرب په لاس جوړ شول، کله یې چې اسلامي دولت له ړنګ کړ او له اوسنیو دولتونو یې حاکمیت واخیست. اردن هم له همدغو هېوادونو څخه دی، چې انګلیس د یوې اونۍ رسمي سیاسي بحثونو په پایله کې جوړ کړ. همغه مهال یې د شام له خاورې څخه بېل کړ، ځانګړې دندې او رول یې ورته وټاکه؛ ترڅو د غرب هغه استعماري پلانونه پلي کړي، چې د خپل نفوذ او سیاست د ترلاسه کولو لپاره پکې له یو بل سره سیالي کوي.

انګلیس، اردن د خپلو هغو سیاسي موخو د لاسته راوړلو لپاره تاسیس کړ، چې د یهودو له دولت سره په امنیتي، استخباراتي او رسنیزه برخه کې مرسته وکړي. د دې تر څنګ د هغوی ژوند، بقا او امنیت وساتي. امریکا هم د یهودو د دولت ساتلو پروسې ته داخله او له انګلیس څخه مخکې شوه؛ په ځانګړې توګه هغه مهال چې په سیمه کې یې د مرستو په وسیله د انګلیس رول پیکه کړ. نو د یهودو د دولت ساتل، هغه دنده ده او رول دی چې ښکېلاک د اردن رژیم ته سپارلی دي.

د اردن بل رول د ښکېلاکګرو هېوادونو پر ځای، د هغو کسانو پر ضد مبارزه ده، چې د اسلامي ژوند د بیا راګرځولو لپاره فعالیت کوي. په ځانګړې توګه د حزب التحریر وړاندې، چې له شپږ لسیزو راهیسې فکري او سیاسي فعالیت کوي. په همدې دلیل یې د حزب التحریر ځوانانو او کورنیو ته ګواښ کړی او ځپلي یې دي، حملې یې پرې کړې او زنداني کړي یې دي. دغه راز هڅه یې کړې چې په خپلو غولوونکو پروګرامونو سره دغه حزب خراب او زیانمن کړي.

که څه هم امریکا او انګلیس د اردن له دغو دوو دندو څخه په ګټه اخیسته کې موافق دي، خو بیا هم امریکا هڅه کوي چې پر اردن د انګلیس اغېز راکم کړي او ځای یې خپله ونیسي. امریکا د اردن لپاره خپلې مرستې په ځانګړې توګه په پوځي او امنیتي برخو کې برابروي. له بل اړخه اقتصاد یې هم مدیریت کوي او پر دغه هېواد د پیسو نړیوال صندوق له لارې پورونه او د اقتصادي اصلاحاتو پروګرامونه تحمیلوي، ترڅو د اړتیا پر مهال د دغه رژیم پر ضد خلک وهڅوي. امریکا د ۱۹۵۰م کال له لسیزې راهیسې په سیمه کې له انګلیس سره سیالي کوي. لکه څنګه چې انګلیس هاشمي کورنۍ ته له اردن خاورې څخه دېر حاکمیت ورکړ، ترڅو هغه مدیریت او

په سیمه کې د انګلیس سیاستونه او دسیسې پلې کړي. بل خوا امریکا هم دغه رژیم د تروریزم پر وړاندې په ځانګړې توګه په پوځي برخه کې خپل ملګری بولي، ترڅو د سیالۍ له کاروانه وروسته پاتې نه شي.

دغه رژیم د امریکایي اډو، د هغوی د کارګرو او له دوی سره ګډو تمرینونو ته پر اجازې ورکولو سربېره اوسمهال یې د امریکا ټولواک سفیر (اکنون هنري ووسټر) هم منلی دی. د اردن رژیم پر دغو ټولو کړنو سربېره اوس هم له انګلیس سره پخوانیو تړونونو ته ژمن دی. همدارنګه په ځینو حالاتو کې د انګلیس له سیاست سره سم مخته ځي؛ داسې چې په ښکاره ځان له امریکا سره ښیي، خو د پردې تر شا یې مخالفت کوي. کله چې د امریکا فشار د انګلیس پر سیاسي نفوذ برلاسی شي، نو دوی یې هم له ځنډ پرته اطاعت کوي؛ مثلاً د رژیم له خوا په لوړه کچه بې ساری بدلون، چې په ځانګړې توګه په امنیتي، نظامي او قتصادي برخو کې یې رامنځته کړ. د ارکان حرب مشر د تېر خلاف د ۲۰۱۹م کال د جولای پر ۲۵مه له کړۍ بهر وټاکل شو. په سلطنتي محکمه کې ګومارل او لرې کول، همداراز د استخباراتي/اطلاعاتي او ... برخو نوي جوړښتونه؛ دا ټول هغه څه دي چې نظم رامنځته کوي، خو تر ډېره د امریکا د بهرنیو فشارونو پر وړاندې د ځواب په څېر دي. دغه راز د استخباراتي/طلاعاتي او امنیتي برخې کمزوري کول دي، څو په اردن کې د امریکا لاسوهنې او د رژیم کمزورې کولو ته لار هواره شي. مخکې مو هم وویل، چې انګلیس له دغه حالت سره توافق کړی؛ خو د پردې تر شا له امریکا سره چل کوي. هغه په خلکو کې دا کار په مکارانه ډول او له رژیم څخه د یوه تصویر په بڼه پیل کړی دی:

مثلاً د ۲۰۱۹م د اکتوبر په ٦مه یې د یوې برخې د حللارې په جوړولو سره د استادانو ناورین را کم کړ... دا چې د پورتنۍ طرحې پر اساس د پوځ تنخوا زیاته شوه، نو د قبایلو خانان یې راټل کړل او ژمنه یې ورسره وکړه، چې ډېره مالیه به نه اخلي. حکومت به بیا پلان جوړ کړي، د کارکوونکو او متقاعدینو تنخوا به زیاته کړي. که څه هم د پیسو نړیوال صندوق پر غوښتنو ـله بودیجې څخه د یو میلیارد ډالرو کسر، د ناخالصو داخلي تولیداتو په عامه پورونو کې ۹۷سلنه زیاتوالي او د بې کارۍ ۱۹٫۱سلنه رشدـ په اړه یې اندېښنه څرګنده کړه. دغه ټول کارونه د امریکا د فشارونو د له منځه وړلو لپاره تر سره شول او د رژیم له کمزورۍ پرته یې بل څه نه درلودل.

رژیم د یهودو له دولت سره د اړیکو په برخه کې د خلکو د ملاتړ تر لاسه کول، د خرابو اړیکو جوړول، له یهودیانو سره د خپلې تاریخي دښمنۍ بیا فعالول او له دغه دولت سره د اړیکو پرېکولو خندوونکې ګامونه پورته کړي دي. همداراز د باقوره او غمر کار له سرته رسېدو وروسته د یهودو د دولت او اردون تر منځ د اړیکو د کچې د راټیټولو په اړه خبرې تبادله شوې. بېرته نیول شوو سیمو ته د مشروعیت نه ورکول، د اردن ځنډو د تړلو ګوانښ، د یوه نفوذي یهودي محاکمه هم وه. دا هر څه د هغه خطر پر وړاندې وو، چې د لودیځ له لوري اردن ته متوجه دی. خو د رژیم د لید پر بنسټ دا هغه وسیله ده، چې باید په اسانۍ له منځه لاړه نه شي. د یهودو د رهبرانو په اند له اردن سره اړیکه د یوې قیمتي خزانې په شان ده، چې په هېڅ قیمت باید قرباني نه شي. دا حالت یوه

زرين بم ته ورته دی، چې ظاهراً ښه ښکاري، خو کله چې وچوي اصلي کار يې روښانه کيږي او پايله يې څرګنديږي.

دغه ټولې کړنې د خلکو د ملاتړ تر لاسه کولو او د هغو خوځښتونو د ځای پرځای کولو لپاره کېږي، چې سياسي دريځ ولري او رژيم ته په يوه تريخ ګواښ بدل شوي دي. مهمه نه ده، که دا کارونه د امريکا په وسيله د رسنيو له لارې کيږي او يا هم د دوی له خوا په جوړ شوي پارلماني يا مشروطه شاهي نظام په وسيله.

د ټولو هغو دلتونو دا حال دی، چې د ښکېلاکګرو له خوا جوړ او د دوی په خدمت کې دي. حاکميت يې ترې اخيستی او حکام يې د سمبول حيثيت لري. د تأسف ځای دی چې خلک په هر لوري کې د دغه نظام فساد، بې عدالتي او د اسلام او مسلمانانو له دښمنانو سره مرسته ويني؛ خو لا هم د نظام د بدلون لپاره کار نه کوي او هڅه کوي چې هغه ټول غندل او رټل له ياده وباسي، چې پر ګناهکارانو سربېره يې پر هغو کسانو هم اغېز کړی چې د بې عدالتۍ پر وړاندې چوپ پاتې دي.

﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾

[انفال: ۲۵]

*ژباړه: له هغې فتنې ووېرېږئ، چې يوازې ستاسو تر ظالمانو پورې محدوده نه وي؛ (بلکې ټول به ونيسي، ځکه چې نورو سکوت کړی دی) او پوه شئ چې الله سبحانه وتعالی سخت جزا ورکوونکی دی.*

بدلون داسې څه نه دی، چې يوه بې عدالتي پر بله بدله کړو. ځکه امت دا ډول قرباني نه ورکوي، چې يو ظالم پر بل او يو بشري قانون پر بل بشري قانون بدل کړي. يا هم د اسلامي خاورو هېوادونه د سايکس-پيکو دولتونو له لارې بېل ساتي. نو د خوځښتونو او امت سربښندنې به داسې وي لکه يو کس چې په زندان کې وي، خو له ازادېدو وروسته يې هم پښې تړلې وي. بې بنسټه بدلون د دنيا له خوارۍ، ذلالت او د اخرت له دردونکي عذاب پرته بل هېڅ نه لري.

اوس پر دې باندې د امت د پوهېدو وخت را رسېدلی دی، چې په ژوند، ټولنه او دولت کې د اسلام له پلي کولو پرته اصلي بدلون نه راځي. يوازې د امت او اسلامي خاورو د بيا يووالي او د نبوت پر تګلاره د خلافت له لارې او د سايکس-پيکو دولتونو د خذفولو له لارې امکان لري. حزب التحرير د دولت د تاسيس لپاره ټول لازم موارد تيار کړي دي. د شرعي دلايلو پر بنسټ د اساسي قانون يوه مسوده، د حکومت لپاره پلانونه لکه، اقتصادي او تعليمي نظام، تعليم او تربيه، بهرنی سياست او داسې نور تيار کړي دي. حزب التحرير له امت څخه غواړي چې له دوی سره يو ځای شي، د بدلون او الله سبحانه وتعالی د رضايت لپاره دوی ته نصرت ورکړي. څو عاقلانه او په

هدایت حرکت وکړي، چې له استثمار څخه لرې وي او د خلافت دولت تاسیس کړي. په دې سره به د دښمنانو او یهودو تېغر ورتېول کړي او هغه عزت او احترام به بېرته تر لاسه کړي، چې الله سبحانه وتعالی مسلمانو ته ورکړی دی.

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً﴾**

[نور: ۵۵]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ستاسو له هغو کسانو سره، چې ایمان یې راوړی او سم کارونه کوي دا ژمنه کړې، چې پر ځمکه به یې واکمنوي، لکه څنګه یې چې مخکینیو کسانو ته خلافت ورکړی و. هغه دین یې چې د دوی لپاره خوښ کړی، قوي او ځواکمن به یې کړي او د هغوی وېره به پر رامتیا بدله کړي.*

**حزب التحریر ـولایه اردن**

**ژباړن: حبیب الله**